# لومړی برخه

# ناول

# د طب محصله

ليکوال: عبيد ژوند

Pashto_novels TELEGRAM

له دهلېز راووتم ، غوښتل مې مخامخ چمن کې لمر ته کېنم ؛ خو چې ګورم ډله ، ډله جينکۍ ناستې وې.

راتاوو شـوم ، چې بېرته ټولګي ته لاړم شـم ، دهلېز ته په داخلېدو مې پر يوې دنګۍ جينکۍ سترګې ولګېدې او په لومړي وار کتلو مې پرې سترګې خوږې شوې ؛ خو له څنګ يې غلی تېر شوم او ټولګي ته ننواتم.

پر چوکۍ کېناستم ؛ خو سوچ مې له هغې سره وه ، چې شېبه وړاندې مې وليده.

دا به څوک وي!؟ د کوم پوهنځي محصله به وي او ولې له نورو جينکو څخه يوازې ده!؟

لس ، سل پوښتنې مې په ذهن کې راګرځېدې ، چې د ټولګي دروازې غنګ شو ، ژر مې مخ ور واړوهٔ ، چې ګورم ، هماغه جينۍ ده.

حيران شوم ، يوازې مې ورته کتل ، چې اوس څه کوي!

ســلام يې وکړ او په بيړه يې وويل: تاســې ، ريښــتيا او زما يوه ملګرې په دې ټولګي کې ده ، هغه مې کتله او بېرته لاړه.

ورځ تېره شـوه او پوهنتون رخصـت شـو ؛ مګر زما سـره د هماغه نامعلومې جينۍ ياد ملګری شو.

دا څوک وه او د کوم پوهنځي محصله به وي ؟

ورځې او اوونۍ تېرې شوې.

وخت ناوخت به ســـره مخ کېدو او هغې به پټ زه څارلم ؛ خو خبره نه وه ، چې زه يې هم څارم.

يوه ورځ پوهنتون کې د لوړو زده کړو وزير راتګ لپاره غونډه ترتيب شوي وه ، چې ښځينه او نارينه ډېرو محصلينو پکې ګډون کړی وو.

د وزير په شـمول بېلابېلو وينا والو خبرې وکړې ؛ خو په منځينۍ برخه کې ستېج سمبالونکي وويل: اوس هم د ښـــځينه محصـــلينو له برخې هيلې افغان ته بلنه ورکوو ، چې راشـــي او ګډونوالو ته خبرې واوروي.

اول مې پام نه وو ؛ خو چې جينکۍ د ستېج سر ته راغله لکه خوب چې وينم.

خبرې يې پيل کړې ، بيخي نرمه او روانه غږېده.

زه په مخ کتار کې ناست وم او د هغې خبرې مې په چکچو بدرګه کولې ، لکه لېونی چې وم ، له خولې مې بې احتیاره د واه ، واه او زنده نارې راوتې.

زما لپاره تر ټولو په زړه پورې وینا پای ته ورسېده او هیله زما پر ذهن ناسته پاتې شوه. خبرې مې یې یوه ، یوه تکراروله او بیا مې له ځان سره ورته شاباس ویل.

وختونه تېرېدل ، له ملګرو مې د هیلې معلومات وکړل ، هغه د طب پوهنځي د څلورم کال محصله وه.

یوه ورځ مې سل زړونه سره یو کړل او هغې ته مې لیک ولیکۀ.

په خوارۍ مې ورولیږۀ.

پر سبا یې ځوابي لیک راته ورسېده ، داسې یې لیکلي وو:

لومړۍ خو مې نه غوښتل ، چې ځواب درکړم ؛ خو بیا مې پرېکړۀ وکړۀ ، چې باید پوه شې.

وبخښئ ، زه دومره اوزګاره نه یم ، چې هر چاته وخت ورکړم او نه دومره بې ارزښته یم ، چې هر سړی زما لایق وي.

بل ځل دې لیک ونه ګورم ؛ ګني چاره دې کوم.

لیک مې څېرې کړ او پوهنتون راپورې اور شو. خو هغې به هره ورځ ځان راسره مخامخ کاوه او چلند یې هم د لیک غوندې نه وو ؛ مګر زه هر وخت تروش تندی او هېڅ تواجه نه کړل تېرېدم.

بېلاخره هغې هم فاصله واخیسته او بیخي بې درکه شوه.

دوه میاشت وروسته خبر شوم ، چې لیک هغې ته نه ؛ بلکې پر هغې عاشق ته په لاس ورغلی وه او ځوابي لیک هم د هغه وو.

تر بلې برخې پوري مو په پاک اللّٰهِ ج سپارم

کله چې خبر شوم ، د لیک ځواب هغې نه بل چا راکړی ؛ نو

مړې هیلې مې بېرته وغوړېدې.

د پوهنتون او درسونو شوق بیا څپې وکړې.

د هیلې په لټون شوم.

هغه همدلته پوهنتون کې وه ؛ خو زما دغسې چلند زړه ماتي کړې وه ، ځکه نه راسره مخامخ کېده.

یوه ورځ یې د ټولګې مخې ته ورغلم. ډله ، ډله محصلین یوه او بله خوا روان وو ، ما سترګې لکه ښکاري باز ددې په لیدو پسې اچولي وې ، ګورم چې له ټولګې راووته ؛ خو چې پر ما یې نظر ولګېده ، حیرانه شوه ، په بیړه لکه وېرېدلي هوسۍ صنف ته وګرځېده.

زما زړه هم بې واکه ټوپونه وهل ، له ځان سره مې وویل ، شکر دی ، چې همدلته ده. ساعت ته مې وکتل ، درس شروع کېدونکی وه ، د صنف په طرف روان شوم.

ټولګې ته چې ننواتم ، پخپل ځای کېناستم ، جسماً په ټولګي کې استاد ته مخامخ وم ؛ خو روحاً له هیلې سره ، د طب په ټولګي کې وم.

خدای خبر درسونه کومو استادانو څنګه وویل ؛ خو رخصتي شوه.

د کورونو لارې مو ونیولې. زړه راته ویل: چېرته پټ ورته ودرېږه ، چې هغه کومه خوا ځي ؛ مګر بیا ووېردم ، هسې نه څوک دې ووینې. کور ته لاړم.

د نورو ورځو خلاف نن ډېر خوښ وم او دغه خوښي مې په څېره کې له ورایه معلومېده. مور مې وپوښتلم ، الهامه زویه! نن خوشال معلومېږې ، چې څه خبره ده.

په بیړه مې ورته وویل: مورکۍ نن مې ډېر ښه درس وه او سم مې یاد شو. هغې فکر وکړ ، چې رینښتیا همداسې ده افرین یې راته وکړل او زیاته یې کړه: زویه درس ووایه ، چې د خلکو له مختاجۍ خلاص شې.

نن مې ډوډۍ ته مې زړه نه کېده ؛ خو په زور مې لږ څه وخوړله.

ورځ هېڅ نه سبا کېده ، چې پوهنتون ته لاړ شم. د شپې مې بېلابېل پلانونه جوړول ، هسې به کوم او داسې. که هغه راته چېرته پټه وي ، که یې لیک راته اېښی وي. په همدې چورتونو کې خوب وړی وم.

سهار وختي مې ځان تیار کړ او د نورو ورځو برعکس څه کم اووه بجې روان شوم.

پوهنتون ته په رسېدو مې لویې دروازې ته مخامخ چمن غوره وباله ، ځکه که هغه راتله ؛ نو ګورم به یې او زه به هم ورته ښکارم.

ظاهراً مې ځان داسې ښکاره کوځ ، چې چپټر لولم ؛ خو په اصل کې مې دروازه څارله او هر داخلېدونکی محصل به مې لیده.

تقریباً درس شروع کېدونکی وه ؛ خو ما هیله ونه لیده.

ورخطا شـوم ، له ځانه مې پوښـتنې پیل کړې: هغه ولې رانغله ؟ څه پرې شـوي ؟ شـاید نن به یې ضــروري کار وو. زه په همدې چورتونو کې وم ، چې هغه په بیړه له دروازې راننواته ، لکه چې پرې ناوخت شوی وه ، ماته یې هېڅ پام نشو ، سیده خپل ټولګي ته لاړه.

زه هم پاڅېدم او خپل ځای ته مې ځان ورسوه.

ثانیې په دقیقو ، دقیقې په ســاعتونو او ســاعتونه په ورځ واوښــتل ؛ خو هغې راباندې هېڅ غرض نه لرۀ.

زړه نیولی غوندې وم ، فکر مې کوۀ ، چې نور هغه نه غواړي ، زما شــتون او نشــتون ورته بې تفاوته دی.

د سه شنبې ورځ وه ، چې د پوهنتون په عمومي دروازه داخل شـوم ، زموږ د ټولګي په طرف تلوونکي لاره کې مې په هیله سترګې ولګېدې ، یو خدای خبر وه ، چې زه په څه حال وم.

ځان مې ناګاره واچوۀ ، لکه هغې ته مې چې هېڅ پام نه وي ، ترې تېر شـــوم ، له شـــاه یې راباندې غږ کړ: اې ، مغروره!

په شــا مې ور وکتل ، هغې په موســکا لاس را اوږد کړ ، لیک ورســره وه او راته یې وویل: دا واخلۀ ، ویې لولۀ ، شمېره مې هم پکې لیکلي ده ، بیا زنګ راته وکړۀ.

لیک مې ترې واخیست له خولې مې هېڅ خبره ونه وته ، هغه د خپل ټولګي په طرف لاړه او زه چپ اړخ چمن ته تاوو شوم ، تر څو لیک ولولم.

پاکټ مې خلاص کړ ، **لیکلي یې وو:**

د سیاسي علومو غنمرنګ او له ما ښخه لوی بې زړه محصله! ستاسو له پوهنځي لږ لرې ، له طب برخې ښخه یوه جینۍ درته د مینې سلام کوي.

ویل کیږي ، چې روحونه په اصــل کې ټول یو دي ؛ خو فقط پېژنګلوۍ ته اړتیا لري ، شــاید همدا علت وي ، چې په لومړۍ ځل لیدو خوږ راباندې ولګېدې.

بختور یې ، چې زما غوندې د یوې ښکلې محصلې په زړه کې ځای لرې.

تر دې ځایه لیک لوســتو بیخي له عادي حالته وویســتم ، د زړه ضــربان مې زیات شــو او په سترګو کې مې د هیلې تصویر ښکته پورته شو.

بیا ، بیا مې دغه جمله ولوسته ، بختور یې ، چې زما غوندې د یوې محصلې جینۍ په زړه کې ځای لرې.

بیا یې لیکلي وو:

له کله نه مې چې لیدلی یې ؛ نو پټ د څارم ، موقع نه راته پیدا کیږي ، تر څو مخامخ درشم ، خبرې درسره وکړم.

در یاد دي ؟ کله چې لومړۍ پوهنتون ته راغلی وې ، یوه ورځ دې ټولګي ته په دې بهانه درغلم ، چې ګواکي دلته مې یوه ملګرې ټولګیواله ده ؛ خو ریښتیا دا وو ، زه ستا لیدو ته درغلې وم.

پوهېږم ته مې هم تعقیبوې ، ځکه څو ځلې زموږ د ټولګي مخې ته مخامخ کېدل تصادفي نشي کېدای ، زه دې هم ښه ایسېږم.

خبرې رانه اوږدې شوې ، هسې نه فکر وکړې ، چې دې نابلدې څومره اوږد لیک لیکلی ؛ خو نه ، زه درسره اشنا یم ، له ډېرې مودې راهیسې ، د یادونو تر ټولو نږدې کس مې یې او د خیالونو نړۍ.

لاندې مې درته شمېره لیکلي ، بیا زنګ راته وکړه.

اوس د ځان غوندې خوږ او ښکلی وخت ولرې. زه به دې زنګ ته شېبې شمېرم.

په مینه ستا نیمه ډاکټره!

لاندې یې خپله درې پوټه امضاء کړي وه. ته به وایې ، چې کومې ادارې ته یې رسمي مکتوب لیکلی.

ساعت ته مې وکتل ، درس شروع وه ، په بیړه مې لیک جېب ته کړ او ټولګي ته لاړم.

استاد پر نړیوالو اړیکو تدرس کوه ، زه د خیالونو په نړۍ کې د لیک په خوابي کلمو پسې لالهنده ګرځېدم.

څه ولیکم ؟ څنګه یې ولیکم ؟ نه او ریښتیا نمبر یې شته ، زنګ به ورته وکړم.

تر رخصتۍ مې پر همدې فکر کاوه.

کور ته چې لاړم ؛ نو مور ته مې غږ کړ: مورکې زه نن سخت ستړی یم ، ویده کېږم ، ډوډۍ به بیا وروسته وخورم.

هغې وویل: سمه ده زویه ، چې لمانځه ته پورته شوې ؛ نو ډوډۍ به هم وخورې.

په بیړه خپلې کوټې ته لاړم ، دروازه مې بند کړهٔ او پردې مې کش کړې ، چې څوک مې ونه ګوري.

لیک مې راوخیست ، ژر مې ترې شمېره په موبایل کې د روان شناس په نوم ثبت کړهٔ.

څو ځلې مې یې نمبر اوکې کړ او بېرته به مې ژر قطع کړ.

نه پوهېدم څه ورته ووایم!

بلاخره مې یې نمبر اوکې کړ او سترګې مې پټې کړې.

څو ثانیې وروسته زنګ ورغی ، زه لړزې واخیستم ، هغې موبایل اوکې کړ ، خوږ او نرم غږ یې وکړ ، بلې.

له خولې مې غږ نه وت ، بیا بیا یې د بلې نارې وهلې.

تقریبا له یوې دقیقې به ډېر وخت وتلی وي ، ټول هوس مې ســره یو ځای کړل او زړه مې وکړ ، چې سلام وکړم ؛ خو اړیکه پرې شوه.

بیا مې پرلاپسې زنګونه وکړل ؛ خو ځواب یې نه کړل.

ځان ته مې په دې ډاډ ورکړ ، چې زما شمېره خو ورسره نشته ؛

نو ځکه به مې وپېژني ممکن فکر یې کړی وي ، چې څوک مزاخمت کوي.

د کوټې پردې مې بېرته کش کړې. د باندې مې د ونې په پرې شــوي ښــاخ ناســتې یوه جوړه مرغیو سترګې ولګېدې.

له ځان ســره مې وویل: دا څومره ښــې دي ، پرته له کومې وېرې او محدودیته د یوې بلې په خوا کې ناستې دي.

لاســونه مې له ســر لاندې کړل او اوږد وغځېدم ، د لمر وړانګې په ما لګېدې ، دا چې هوا نور په یخېدو وه ؛ نو خوند مې ترې اخیسته.

چورتونو مې د نیمه ډاکټرې خوا ته خېمه وهلې وه ، د هغې د لیک خواږه الفاظ مې بار ، بار تکرارول.

یو ناخاپه مې په ذهن کې راوګرځېدل ، چې باید لیکلی پیغام ورته ولیږم. موبایل مې راواخیست او ورته مې صرف دومره ولیکل: د یوه ریښتني بې زړه سلام ومنۀ.

موبایل مې نور خواته کیښــوده. څو دقیقې وروســته پیغام راغی ، په بیړه مې وکتلو ؛ خو د شبکې اعلان وو.

تر مازدیګره مې د شبکې څو پیغامونه ډېر ژر د هغې د ځواب په نیت خلاص کړل ؛ خو درک یې نه وو.

ماښـام ته نږدې یې ځواب راته لیکلي: وبخښـئ ، موبایل رانه کور کې پاتې وه ، زه شـفاخانه کې عملي کار کوم ، هلته وم. زه بیا زنګ درته کوم.

د شپې تر نهو بجو یې زنګ رانغی ، له ځان سره مې وویل: کورنۍ سره به وي ، شاید موقع نه وي.

د بام سر ته پورته شوم ، شمال له ونو څخه پاڼې تویولې ،

اسمان له ستورو ډک وه ، لکه په کومه خوشالۍ کې چې راټول وي ، خوښ ښکاره کېدل.

شپې خپله خاموشي خپاروله ؛ خو ځای ، ځای سپیو غپل.

چوکۍ مې پر بام د ســرک خواته کېښــوده ، غټ بار وړونکي موټر تېرېدل او ما یې نندار کوله ، چې موبایل مې وشرنګېده.

په بیړه مې جېب ته لاس کړ او موبایل مې راوخیســت ، چې ګورم د هیلې شـمېره ده ، ژر مې اوکې کړ.

د هغې خوا نرم او ښکلی غږ راغی: سلام علیکم.

لکه خوب چې وینم ، باور مې نه کېده ، چې دا دې هغه د طب محصله وي.

علیکم سلام مې وکړل.

لږ غلي شوه او بیا یې زیاته کړۀ: ته څوک یې ؟

نه پوهېږم ، زه څوک یم ، تا چاته زنګ کړی دی ؟

ما یوه لوی بې زړه محصل ته.

خبرې رانه ورکې شـــوې ، چې اوس څه ووایم ، تر څو مې چې خوله خبرې ته جوړوله ، هغې وویل: څنګه غلی شوې ، ته خو هغه نه یې ؟

ورته مې وویل: ته څوک یادوې ؟ کوم بې زړه ؟

غلي یې وخندل ، یو دانه دی ، ماته یې نن ستا له نمبر نه زنګونه کړي وو.

ومې ویل ، زنګونه خو ما کړي وو.

ښه یې وکړل او زیاته یې کړه: ته خو دومره ورخطا یې ، لږ ځان تکړه کړه.

دې خبرې سره ریښتیا لار راخخه ورکه شوه ، غوښتل مې اړیکه پرې کړم ، چې بیا یې غږ کړ: خبره واوره ، ما هم زړه په سلو ټوټو ټرلی درسره لګیا یم.

ورته مې وویل: زړه مې ټوپونه وهي ، له سینې مې د بندې راوځي.

ښـــه په کړس یې وخندل او راته یې کړل: د نیمو شـــپو ویښـــه په غم دې ځان واړوه ، اوس ټینګ شه.

زړه مې بیخي باغ ، باغ شو.

ورته مې وویل: لا خو ماښام دی ، نیمه شپه چېرې ده.

ویې خندل ، ته به شوګیرې کوې ، چې اوس ماښام درته ښکاري ، مئین خو به نه وې ؟

ومې خندل ، نه څه لېونی یم ، چې مئینېږم. نه پوهېږم د چا بیت دی ، ورته مې ووې:

زموږ د شپې شوګیري هسې عادت ده     ګني زمونږه د راتلو څوک دي

هغې واه ، واه وکړل او زیاته یې کړه: ته شاعر هم یې ؟

نه مې وکړل ، ورته مې وویل: دا دې بل چا بیت دی ، چې مئین نه وم ؛ نو شـــاعر به څنګه شم ؛ خو نیت مې دی.

امممم ، ښه ولې اوس مئینېږې که څنګه ؟

غلی غوندې شوم ، بیا مې وویل: نه پوهېږم.

موضـــوع یې بدله کړه ، ریښـــتیا څنګه یې ؟ پوښـــتنه خو پاتې شـــوه ، معرفت او په مینه مو بحث پیل کړ.

شکر دی ، تر اوسه خو ښه یم ، ته څنګه یې ؟ درسونه د څنګه روان دي ؟

بس بې وخته یې زاړه کړم ، د طب هغه ډېر وخت غواړي ، خواري به کوې ، ځان به ستړی کوې ، ځکه د خلکو ژوند درسره تړلی دی.

ورته مې وویل: هو دا خو ده ، طب تر ټولو مهم بخش دی ، هوایي نه کیږي ، باید انسان ځان پکې ورسوي.

هو همداسې ده او بیا یې وویل: غرمې د زنګ وکړ ، غږ دې نه کوۀ ، فکر مې وکړ ، چې بل ځوګ دی ؛ خو وروسته دې بیا مسیج کړی وه ، زه موبایل ځان سره شفاخانې ته وړم ؛ مګر نن لږ راباندې ناوخت وه ، بیړه مې وه ، هغه رانه کور کې پاتې وه.

ومې ویل خیر کومه خبره نه ده ، انسان دی ، بیا چې د درسونو غم شي ، زه هم کله نا کله داسې یم ، موبایل رانه پاتې کیږي.

ډېرې خبرې مو وکړې ، هغې وویل: ته دې ساعت ته وګورۀ ، ناوخت نه دی ؟ سبا به پوهنتون ته ځو.

ساعت ته مې وکتل ، څه د پاسه یوولس بجې وې. دا چې اوس زه هم زړور شوی وم او د خبرو جرات مې پیدا کړی وه ، ومې ویل: خپله به عادت شې ، بیا به زه درته وایم ، چې ناوخت دی ، ته به وایې نه ، ودرېږۀ دا یې لا پیل دی.

ځان یې ناکاره واچوۀ ، څنګه به عادت شم ؟ د څه شي پیل دی!؟

ومې خندل هغه د کاروان صیب نیم بیتی مې ورته وویلو:

**پوی به شې او لوی به شې چې سترګې د یار څه معنا ؟**

ښه یې وکړل او بیا یې زیاته کړۀ: زه په دې خبرو نه پوهېږم ، ناوخت دی ، زما سترګې پټیږي ، خوب راغلی.

زړه مې نه کېده ، چې اړیکه پرې کړي ؛ خو بیا مې هم ورته وویل ، ښه ویده شۀ.

غوسه غوندې شوه ، سم راته ووایۀ ، داسې نه ځم.

خو سم مې وویل ، نور څنګه ووایم ؟

راته ووایۀ ، ښکلې او له سکون ډکه شپه ولرې ، ارامه ویده شۀ.

دا خو مې ویل ، لا خو مو رخصت نه دی اخیستی.

ویې خندل ، لکه چې ما بیړه وکړۀ.

ورته مې وويل: هو کنه.

هغې بخښنه وغوښته او بيا يې زياته کړه: هله ، نور ويده شه ، ښکلي خوبونه وويني ، له ما پرته بل څوک په خوب ونه وينې ؛ کنه خپه کېږم.

ومې ويل: بيا نو مجبور يم ، چې هېڅ ويده نشم.

هماغه نيم بيتی يې راته تکرار کړ:

پوی به شې او لوی به شې چې سترګې د يار څه معنا ؟

خدای په اماني مو وکړه او اړيکه پرې شوه.

يوه او بله خوا مې وکتل ، توره تياره وه ، ځای ، ځای ځينو کورونو کې ګروپونه لګېدلي وو. کوټې ته ننــــوتم او په کټ کې اوږد وغځېدم ؛ خو ونه شـــوه ، د خوب هېڅ څرک نه لګېده ، کړکۍ مې خلاصــه کړه ، سـر مې ترې وويســت او اسـمان ته مې وکتل ، لکه سـتوري چې ټول ماته ګوري ، اشــارې راته کوي ، ښــه شــېبه مې يې ننداره وکړه ، بېرته مې کړکۍ بند کړه او کټ ته لاړم.

د هيلې سره کړي خبرې مې يوه ، يوه په ذهن کې راګرځېدې او ځان سره مې وويل: دا څومره ښکلی غږ لري ، څومره عجبه غږېږي او څه د خبرو يو هنر ورسره دی.

په همدې چورتونو کې خوب په خپله غېږ کې نيولی وم.

ســهار چې راويښ شـوم ؛ نو هېڅ فکر مې نه کاوه ، چې دا هر څه ريښــتيا وو ، يو خيال راته ښکاره کېده.

ورځې په شپو او شپې په ورځو اوښتې ، وخت ناوخت به مو کله پوهنتون کې سره وليدل او کله به مو هم زنګ ســره کاوه ، چې پر زنګ به د خبرو موقع نه وه ؛ نو بيا به مو پر وټســاپ چټ کاوه.

هر سهار چې به لومړۍ راپورته شوم ؛ نو د هغې په وټساپ کې راغلی مسيج به مې کاته ، چې ليکلي به يې وو:

لا ويده يې ؟

پاڅه سهار شوی ، سهار دې نېکمرغه.

یوه ورځ د نورو هغو خلاف وه ، مسیج نه وو راغلی ، په بیړه مې یې شمېره رواړوله ، زنګ مې پسې وکړ ؛ خو کمپیوټر پرې وغږېده ، ستاسو ډایل کړي شمېره له ساحې نه واتلي او یا ګول ده ، مهرباني وکړئ ، وروسته بیا اړیکه ونیسئ. څو ځلې مې شمېره وکاتۀ ؛ مګر هماغه خبره یې کولۀ.

بېلابېلې خبرې مې په ذهن کې راګرځېدې ، هغه خو هېڅکله مسېج نه پرېږدي او نه موبایل بندوي ، خدای دې خیر کړي ، چې کوم څه پرې شوي نه وي.

ټوله ورځ زنګ تېر نشو او نه یې معلومات وشول ، چې ولې ؟

هک حیران وم ، چې اوس څه وکړم ، چاته زنګ وکړم او له چا یې پوښتنه وکړم ؟

شــپه لکه کال هېڅ سـبا کېده نه ، دقیقه په دقیقه به مې یې شـمېره کتله ؛ خو بند وه. ټوله شپه مې سترګه پټه نه کړه.

نســـهار له نورو ورځو څخه وختي پوهنتون ته لاړم ، چې هیله به هلته ووینم ؛ خو ونه مې لیده ، صنف او درسونه راپورې اور شول.

ورځ راباندې داسې تېره شوه ، چې یو خدای ته معلومه وه.

د شپې ډوډۍ خوند نه راکاوه ؛ خو د مور په خاطر دسترخوان ته کېناستم ، له لا مې شخوند نه وو کړی ، چې موبایل ته مېســج راغی ، ژر مې له جېب راوویســـت ، چې ګورم نامعلومه شمېره ده او لیکلي یې دي: سلام ، هیله یم ژر زنګ وکړۀ!

په داسې ډول له ډوډۍ پورته شوم ، چې مور او وروڼه راباندې پوه نشي ، چې د موبایل لپاره یې ډوډۍ پرېښوده.

خپلې کوټې ته لاړم او په بیړه مې زنګ ورته وکړ ، له لومړۍ ټالۍ سـره سـم یې اوکې کړ او له سلام پرته یې وویل: قیامت راباندې تېر دی: ډېره زیاته بخښنۀ غواړم.

ورخطا شوم ، په حیرانۍ مې وویل: ته خو ښه یې ؟ څه خبره ده ؟

هغې وویل: ستا به تلوسه وه ، چې ولې ورکه یم او موبایل مې هم بند دی.

د ترور لور واده مې وه ، ماښام هلته لاړه وم ، نه پوهېږم موټر ته د پورته کېدو پر مهال به وي او که څه وخت ، موبایل مې له څه شي سره لګېدلی سکرین یې مات دی ، بیخي بند دی ، هېڅ خلاصیږي نه.

هلته داسې څوګ نه وو ، چې مې تاته ترې زنګ کړی وای او خبر مې وای.

ورته مې وويل: زما له زړه يو الله خبر دی ، چې دغه موده څنګه تېره شــوه ، خير کومه خبره نه ده ، چې يوازې خيرت وي.

هغې زياتــه کړۀ: دا مې د ورور نمبر دی ، هغــه اوس جومـات تـه لاړ او مـا يې موبـايـل راوخيست ، سبا خپل هغه جوړوم بيا زنګ درته کوم.

شايد ورور له لمانځه راشي ، فلحال ښکلي او ارامه شپه ولرې.

اړيکه يې پرېکړۀ.

يو اوږد اسويلی مې وکړ او ارام شوم ، له ځان سره مې وويل: موبايل دې بلا ووهي ، چې په تا څه نه دي شوي.

د تېرې شـپه په پرتله مې ارام خوب وکړ ، سـهار وختي پورته شـوم ، دا چې د جمعې ورځ وه ؛ نو ملګرو مې زنګ وکړ ، چې چکر ته به لاړ شو.

زړه مې نه کېده ، بهانه مې وکړۀ ، چې زه نن کور کې لږ کار کوم ، تاسو لاړ شئ.

څه د پاسه لس بجې وې ، چې هيلې زنګ را ووهۀ ، پورته مې کړ.

د هغې خوږ غږ راغی ، ســلام ســلام ، څنګه يې ؟ د تېرو دوو ورځو او شــپو ځورولو بخښــنه غواړم.

د ســلام ځواب مې ورکړ او په خندا مې وويل: کومه خبره نه ده ، په ما د هســې هم مرګ تېر کړ ؛ خو ښه ده ، چې ته روغه يې.

لږ غلي غوندې شــوه او بيا يې وويل: زه پوهېږم ، چې په تا به څنګه دغه موده تېره وي ؛ خو هېڅ چاره نه وه ، کنه له زړه مې والاکه وتلی وې.

د دوو شپو او ورځو د زړه برس مو وويسته ، ښه ډېر وغږېدو او بيا مو خدای پاماني وکړۀ.

له کور څخه د باندې راووتم ، د سرک په غاړه د دوکان پر چوکۍ لمر ته کېناستم او د سرک هغه غاړه د فوټبال په ميدان کې ماشــومانو لوبې کولې. يوه ســره توپ په لاس له بل منډې وهلې ، چې تيرډې يې پښــه ووهلۀ ، پړ مخې ولوېده ، سـوي چيغې يې پورته شـوې ، ور منډه مې کړۀ ، ژر مې راپورته کړ ، سپېره مخ او کالي يې په خاورو وو ، ومې څنډل ، ورته مې وويل: غلی شۀ ، نه يې خوږ شوی ، هغه ده ، مرغې درنه والواته.

په ژړا کې په خندا شـو ، تر څنګ یې پسـې منډه کوونکی ماشـوم چې خپه ولاړ وه ، هم غلي وخندل ، پر چاود مخ یې ، د وینو غوټۍ وچې وې.

هغه مې په غمبورو کې راونیوه ، ورته مې وویل: زما ورته پام وه ، تا نه دی غورځولی ، خپله وغورځېده.

هغه هم زړور شـو او راته یې کړل: زما توپ یې اخیستی وه ، ما هغه ترې اخیسـته او ده رانه منډه کړه.

په دې وخت کې غورځېدلی ماشوم پسې رانېغ شو ، څه پټوه خو مې نه ، بېرته مې درکوۀ.

دواړو تـه مې وویل: تاســو خو ملګري یئ ، لوبې کوئ ، جنګونـه مه کوئ. اوس راځئ ، توپ راوخلئ ، زه هم درسـره یم ، چې لوبه وکړو. دواړو د توپ په طرف منډه کړۀ ، زه هم ورغلم ، د میدان په هغه بل سـر کې چې یوه ډله نورو ماشـومانو له دوی سـره زه په لوبه ولیدم ؛ نو ټول راغلل.

ډېر خوښ وو ، یوه بل په اوږو ســره وهل ، ما به ورته توپ پرېښــوده ، چې کوم یوه به رانه یووړ ؛ نو نارې به یې کړې ، هله ستر سرې مې ولوبوۀ.

یو ځای مې قصداً ځان وغورځوۀ ، ټولو ښـه د زړه له خلاص وخندل او چیغې یې کړې ، هله وغورځېده ، وغورځېده چې راپورته شوم ؛ نو ژر ژر یې له جامو راته خاورې وڅنډلې.

په څو شـېبو کې مې ورسـره ځان ښـه سـتړی کړ ، مړې خوالې راباندې راماتې شـوې ، نور مې ورتـه وویل: اوس د ډوډۍ وخت دی ، کورونو تـه ځو ، بیا بـل وخـت لوبـه کوو ، ترې روان شوم.

له شا یې راپسې نارې کړې ، سبا بیا راشه ، ورته مې وویل سمه ده راځم.

دوکان ته لاړم ، چې مستې او لږ نور شیان واخلم. دوکاندار شیان راکړل او ما جېب ته لاس کړ ، تر څو پیســې ورکړم ، چې یو ناڅاپه د موټر د برېکونو سـره سـم ټنګ شــو ، په بیړه مې شاته مخ واړوۀ ، ماشومانو چیغې پورته کړې او ما ورمنډه کړۀ.

چې نږدې شوم ، ګورم خر پروت دی ، ماشومان له خندا شنه دي.

په هغه مې هم خوا بده شـوه ، ځکه د خدای مخلوق دی ؛ خو شـکر مې وویسـته ، چې کوم ماشوم یې نه دی وهلی.

موټروان د موټر په لګېدلي ځای ، چې پمپر یې رالوېدلی وه ، زورونه کول ، تر څو یې خپل ځای ته ورولي او له ځان سره لګیا دی: خانه د خرابه شه ، په سرک دې څه غوښتل.

په څو دقیقو کې زیات رش جوړ شو ، د هر سړي به تلوسه وه ، چې پېښه وګوري.

زه د کور په طرف ترې روان شوم ، چې کور ته ورسیدم ؛ نو مور مې راته وویل: زویه ، ډوډۍ د وخورهٔ ، د بشیر کاکا دوی کره به لاړ شو ، زوی یې نثار عملیات کړي دي.

ورته مې وویل: سمه ده ، په بیړه ډوډۍ خورم لاړ به شو.

په انګړ کې لمر ته په غوړېدلي پرش کښناستم ، مخامخ په ونه کې کارغه کاغ ، کاغ کول ، مور مې لاندې ټیټه شوه ، له ځمکې کې یې څه شی راواخیستل او د ونې په طرف یې وار کړل ، د کارغه سره نورې مرغۍ هم ولواتې.

کوچني ورور مې ډوډۍ راوړهٔ ، لوبیا سره مستو بېل خوند کاوهٔ ، ښه په خوند مې وخوړهٔ.

له ځایه پورته شوم ، کوټې ته لاړم ، په بیړه مې جامې بدلې کړې او مور ته مې غږ کړ ، ځو به.

هغې وویل: ته لږ ودرېږهٔ ، د اوبو نالکۍ خلاصه پاتې ده ، چې هغه بند کړم.

شېبه وروسته راغله ، دواړه روان شو.

د سرک په سر موټر ته کښناسو ، ډېرو موټرو ته مې لاس ورکړ ؛ خو ونه دارېدل. مور مې وویل: یو ساعت وشو ، دومره مسلمان نشته ، چې راته ودارېږي ، ددې خبرې سره سم یو موټر ودارېده ، ورته مې وویل: تر پلاني ځایه ځو. ویل یې کښنئ مشکل نشته ، زه ځم.

موټر ته پورته شو.

ټول غلي ناستو وو. یوه جمپ ته چې ورو شوو ، له ښکته څخه دولتي د تورو شیشو والا موټر لکه مرمۍ له جمپ تېر شو ، په جمپ یوه سوالګره سره د ماشومانو ناسته وه ، موټروان خاموشي ماته کړهٔ او ویې ویل: دا بېچاره ګورهٔ ، د ډوډۍ چاره نه لري ؛ خو چارواکي مو په تورو ښیښو دولتي موټر کې داسې تېرېږي ، لکه دا ولس چې هېڅ اړتیا نه لري.

ورته مې وویل: دلته هر سړی یوازې د ځان په غم کې دی ، که د نورو فکر راسره وای ؛ نو ولې به دا حالت وه.

هغه وویل: ورکوۀ یې ، ددې ټولنې له کومې بدبختی به سر وتکوې ، دا اوس له جنازې څخه راغلم ، زموږ خپلوان وو ، سـره تره زامن کېدل ببکا یې پر ځمکو د اوبو لګولو په سـر لانجه کړې وه ، درې کسان یې سره وژلي وو.

افســـوس مې وکړ او زیاته مې کړه: تر څو چې له د ټولنې جهالت لمن ټوله نه کړي ، موږ به ښه ورځ ونه وینو.

د بشیر کاکا دوی کور ته ورسیدو ، موټر ته مې د ودرېدو وویل. موټر یې یوې غاړه ته وداروۀ. پیسې مې ورته ونیولې ، هغه وویل: زویه ورځۀ ، همداسې مې راوړئ. ما ټینګار وکړ ؛ خو وایې نه خیستې. خدای په اماني مو وکړۀ او لاړ.

موږ هم مخامخ د تره د کور لار ونیوله.

دروازې ته چې ورســـیدو ؛ نو ټک ، ټک مې کړۀ ، ســـپي وغپل او لږ وروســـته مې تقریباً زما همزولی د تره زوی راووته ، چې موږ یې ولیدو نو په سـترګي مه شـي کې یې وویل: راځئ کنه ، ولې څه پرادی ځای دی ، چې دراوزه وهئ ؟

مور مې په خندل وویل: دومره غټ سپی مو ساتلی ، څوک کله درتلی شي. هغه وخندل ، نه سپی د خوړلو والا نه دی ، څه نه وایي ، راځئ.

دی مخکې موږ ورپسې شو.

سیده د نثار کوټې ته لاړو ، هغه ژېړ رنګ الوتی په کټ پروت وه ، په لاس کې یې کانوله وه ، چې موږ یې ولیدو ؛ نو په کټ کې کېناسته د مېز په سر په ایښي ګیلاس یې کمپل ولګېده او لاندې وغورځېده.

په بیړ ورښکته شوم ، ګیلاس مې پورته کړ او پر مېز مې کیښود.

نثار مې د تره مشـر زوی وه ؛ خو ډېر مهربان ، زړه سوند او پوه انسان وه. له موږ سره داسې وه ، لکه مشـر ورور ، همېش به یې زه زده کړو ته هڅولم ، د کورسـونو پیسـې به یې راکولې. په کولمو کې یې دانه وه ، ډېر وخت ورنه په تکلیف وه ، بیا د ډاکټرانو په هدایت سره ، چې په راتلوونکي کې درته ستونزه لویوي ، اوس هوا هم ښه ده ، عملیات کړي یې وه.

تر مزدیګر ناوخته همدلته وو ، بیا مې مور وویل: کور کې څوک نشته ، لاړ به شو. زه له ځایه پورته شـــوم ، نثار او مور یې ډېر ټینګار وکړ ، چې پاتې شـــئ ؛ خو موږ په دې بهانه چې بل وخت شپې ته راځو ترې ځانونه خلاص کړل.

خدای په اماني مو وکړۀ.

کشر ورور یې تر دروازې په موټر کې راوړو.

ماښام اذنونه وشول ، زه د کور تر څنګ جومات ته لاړم او مور مې کور ته ننواته.

په لمانځه ولاړ وو ، چې نېردې سختې ډزې وشوې.

سخته تلوسه مې شوه.

لمونځ راته ډېر اوږد شو ، ملا چې سلام وګرځوۀ ، خدای شته ، په لمانځه پوه نشوم ، چې څنګه مې وکړ ، ځکه ټول فکر مې په ډزو کې وه.

زما په شمول ټول په بېړه د باندې راووتل او ورخطا وو.

لعل ګل اکا چې د کلي سپينږيری مشر وه ، څادر په لاس جومات ته راننواته ، غوسه ښکاره ده ، له ځان سره لګیا وو: دا وخت او حالاتو ته ګوره ، ستاسو مستۍ ته ګورۀ.

یو کس ترې وپوښتل: اکا ، د څه شي ډزې وې ؟

سر یې وخوروۀ ، ورکوۀ یې ، د ګاونډي ناصر زوی شوی دی ، د هغه په خوشالۍ کې یې کړي دي.

د ټولو په څېرو کې غوسه ښکاره شوه ، حاجي بادام چې یو ټوکي سړی وه ، په خندا وويل: دا چې لوی شي ؛ نو بیا به یې پلار وايي: ستا په خوشالۍ مې هم ډزې کولې ، لېونی وم.

بېرته ټول جومات ته ننواتل ، زه په برنډه کې په سنتو ودارېدم ، چې لمونځ مې خلاص کړ ؛ نو کور ته لاړم.

مور مې خپله کوټه کې وه ، زه هم هلته ورغلم ، د کټ له لاندې مې پتنوس راکش کړ ، مور او ځان ته مې د چایو پیالې ډکې کړې او بالښت ته مې تکیه وکړۀ.

موبایل مې راوخیست ، وټساپ مې خلاص کړ. د هیلې مسېج راغلی وه ، لیکلي یې وو: زه بېګاته درسره خبرې نشم کولای مېلمانه راغلي دي بیا سبا غږېږو.

خوند یې رانکړ ؛ خو یوازې مې سمه ده ورته ولیکل.

مور مې راباندې غږ کړ: الهامه زویه ، هوا يخيږي ، د پوهنتون رخصتۍ مو کله کیږي ؟ څه کار ځان ته پیدا کړۀ ، د مشر ورور په تنخوا خو هر څه نه کیږي.

ورته مې وويل: مورې ، څو ورځې وروسته مې ازموينې پيل کيږي ، چې تېرې شوې ؛ نو بيا مو رخصت دی. حتماً ځان ته کار پيدا کوم ، ملګرو ته مې ويلي دي.

مور مې زياته کړه: خواري کوئ ، نور خدای مهربان دی ، څه چاره به جوړه شي.

هو ، بېشکه مې وويل.

مور مې له ځايه پورته شوه ، د باندې لاړه.

د شپې مې چې ډوډۍ وخوړه ؛ نو وختي د خوب ځای ته لاړم.

لکه څه شی ، چې رانه ورک وي ، هيله مې سترګو ، سترګو ته کېده.

د هغې زړه نرۍ وه ، چې ورځ کې به مې يې څو وارې پوښــتنه ونه کړه ؛ نو به مروره وه ، له ځان سره مې وويل: هسې نه ، چې مروره شوې وي ، د سهار راهيسې مې نه مسېج ورته کړی او نه زنګ.

تر ناوخته خوب نه راته ، همدا چورتونه مې وهل ، نه پوهېږم څو بجې خوب وړی وم او بلاخره هم دغه د کال غوندې اوږده شپه سبا شوه.

پوهنتون ته چې لاړم ، د معمول په څېر بيا هلته کېناســتم ، چې را داخلېدونکي خلک ووينم.

څو شېبې وروسته يوه ډله جينکۍ رادننه شوې ، چې ګورم په ښې لورې کې يې زما د خيالونو دنيا ده.

چې لږ وړاندې راتېرې شوې ؛ نو زه يې وليدم ، موسکۍ غوندې شوه او په سترګو کې يې پوه کړم ، چې دغه نورې جينکۍ راسره دي ، څه نشي ويلی.

ما په زير ، زير ورکتل ، چې له شا مې ټولګيوال سليم په اوږه ووهلم ، سخت يې ووېرولم ، راته يې وويل: جينکو ته مه ګوره ، مئين به شې ، بيا به درسونه درنه پاتې وي.

ومې خندل ورته مې وويل: زه او مئينتوب ډېر سره لرې يو ، ما جينکو ته کله کتل ، ستاسو خو بله خبره نشته ، لوی پوهنتون دی ، په يو او بل شي د انسان نظر لګيږي.

سليم مې مخې ته کېناست او زياته يې کړه: ښه دا پرېږده ، بله ورځ ازموينې پايليږي ، ما خو بيخي درسونو ته وخت نه دی پيدا کړی څه به کوو ؟

ومې ويل: د ټولو همدا حال دی ، خدای به خير کوي ، دومره زړه ورته مه خوره.

تر درس شروع کېدو پورې هملته ناست وو او کیسې مو کولې ، بیا ټولګي ته لاړو.

استادانو هم د درس تر څنګ د ازموینو د را رسیدو یادونه وکړۀ.

پوهنتون رخصت شو ، یو ځل بیا ښار او بیا کلي ته لاړم ، چې کور ته ورسیدم ؛ نو ترور او تروزي مې راغلي وو.

ورځ مې له هغوی سره تېره کړۀ او شپې ته هم پاتې شول ، د هیلې سره غږېدو ته هېڅ فرصت پیدا نشو ، فقط مې پر وټساپ ورته مسېج پرېښود ورته مې ولیکل: زما سره نن مېلمانه دي ، بیا سبا غږېږو.

د شپې تر ناوخته مې له تروزیو سره د ماشومتوب د شوخیو کیسې کولې.

سهار چې راپورته شوم ؛ نو لومړۍ مې وټساپ خلاص کړ• د هیلې مسېج راغلی وه ، داسې لیکلي وو: ته ډېر ضدي یې ، پرون شپه له ما سره ریښتیا مېلمانه وو ، دروغ مې درته نه دي ویلي ؛ نو بېګا تا هماغه خبره وکړۀ ، څه خیر کومه خبره نه ده.

ژر مې زنګ پسې وکړ ؛ نمبر یې بند وه. بیا ، بیا مې پسې کاته ؛ خو هماغه خبره وه.

غوسه راغلۀ ، له ځان سره مې وویل: اوس دا ګورۀ. دا چې ترور او زامن یې راغلي وو ؛ نو پوهنتون ته لږ ناوخت لاړم ، هلته مې هم ونه لیده.

ټوله ورځ یې شمېره بنده وه او وټساپ یې هم بند وو. ورو په ورو مې غوسه زیاتېده.

د شپې لس بجې به وې ، چې په وټساپ کې یې مسېج راغی او دغه لنډه یې لیکلي وه:

غیرت کوم کولای نشم

دا بېغرته سترګې بیا در واړومه

له ما ځواب ورک وو ، چې اوس څه شی ورته ولیکم!

هغې بل مسېج وکړ ، څنګه غلی یې ، ضدي ؟

دغه لنډۍ مې ذهن ته راغله او ورته مې ولیکله:

دا به له مانه پوره نه شي          چې هر ساعت دې په جرګو په خوله کومه

امممم یې ولیکل او زیاته یې کړه ، هو دا خو زه یم ، چې نه مې درنه کیږي ، کنه ته خو د چا کیسه کې هم نه یې.

ځواب مې ورکړ: هو ، هو دغسې ده ، کوم چې ته وایې ، زه د کیسه کې هم نه یم.

مسېج یې وکاته ؛ خو غلي شوه.

څو شېبې زه هم غلی شوم ، مګر هېڅ یې ونه وې.

بیا مې ورته ولیکل: څنګه غلې شوې ؟

بیا یې هم مسېج وکاته ؛ مګر ځواب یې رانه کړ.

مسلسل مې ورته لیکل وکړل ؛ خو د هغې لخوا هېڅ.

دا ځل لږ جدي شوم ، ورته مې ووې چې نه راسره غږېږې ، نور نه مزاحم کېږم ، تاته ښه وخت.

ژر یې راولیکل: اې ، ودرېږه! مهمه خبره درته کوم.

دا ځل یې ما خبره همداسې پرېښوده او وټساپ مې بند کړ.

څو شېبې وروسته مې صبر ونه شو ، بېرته مې وټساپ خلاص کړ ، یو کتار مسېجونه یې کړي وو ، وروستۍ یې دا ټپه لیکلي وه:

په نه خبره مروره        که مې پخلا کړې د هندوې لور به یمه

له ځان سره مې وویل ، راځه لږ یې نوره هم غوسه کړه ، دغه ټپه مې ورته ولیکله:

که راکوي خدای به دې راکړي        کنه نو دومره مئین زه نه یم چې مرمه

د غوسې له سټکر سره یې راولیکل: نور یې بس کړه ، په رېښتیا جنګ درسره کوم ، بیا به وایې.

ځواب مې ورکړ: سترګې مه خروه ، زه نه وېرېږم ، ته چې ټول جنګ شې ؛ نو څه به وکړې.

لږ غلي شوه او بیا یې زیاته کړه: نور په ځان خوله لګوم ، که په تا مې وس نه رسیږي.

هههههههههههه مې وليکل او بيا مې ورته وويل: غوسه مه کوۀ ، رانه بدرنګوي دي.

په امممممم پسې يې وليکل: اوس خو داسې ښاپېرۍ يم ، چې وروسته به بدرنګه شم.

ورته مې وويل: اې ريښتيا مهمه خبره د ونه کړۀ ، تلوسه مې ده.

هغې زياته کړۀ: هماغه يې وخت وه ، اوس نه کيږي ، ولې د رانه وټساپ بند کړ.

ځان مې مرور غوندې ونيو ، ځواب مې ورنه کړ.

بل مسېج يې وکړ: خوله کاږه مه نيسۀ ، والاکه هېڅ خبره هم وي ،

هسې مې درته وويل ، ما وې لاړ نشي ؛ خو تا خپل ضد وکړ.

ورته مې ووې: هو نو ، تا خبرې راسره نه کولې ، خود به تلم ، څه شی مې کول.

هغې خبره بدله کړۀ ، خير اوس دا کيسې پرېږدۀ ، بله ورځ ازمويني پيل کيږي ، داسې زړه مې ورته خپه دی.

ورته مې وويل: هو والا ، سر له اوسه بايد اماده ګي ورته ونيسو ، زړه ورته مه خپه کوۀ ، سيي ده چې ډېر لايق هم وې ، امتخانونه سخت دي.

خبره يې راپرې کړۀ ، هغه پخوانۍ خوند مې نشته ، درس ته مې هېڅ زړه نه کيږي ، لکه په زور چې مې څوګ ورته کېنوي ، نه پوهېږم څه راباندې وشول.

ورته مې وويل: زه هم همداسې يم ؛ خو اوس يې څنګه کوې ، بله چاره نشته ، بايد خواري وکړو او درس ووايو.

هغې وويل: که نور ونه شوه ؛ نو استاد ته به په پرچو وليکم:

استاده خېر دی ما کامياب کړۀ        زه نالايقه د جانـان د لاسـه يــمه

ومې خندل او ورته مې زياته کړۀ: ته لکه چې خبره رسمي کوې ، ټول پوهنتون راباندې خبرې وې.

د ههههههههههه سره يې راوليکل: ولې نو دې کې څه خبره ده ، خلک به خپل کار کوي ، ته چې دومره د خلکو کيسه کې کېږې ؛ نو خاورې به ژوند وکړې.

ورته مې ووې: اخر پښـتانه ټولنه ده ، چې هر څنګه شـې بيا به هم ځينې خبرې په نظر کې نيسې ، له دې پرته دلته ژوند ناممکن دی. کاش! چې هر مو غوښتی کېدای شوی.

ډېرې نورې کیسې مو وکړې ، زما سترګې پټې ، پټې کېدې ،

چې هغې راولیکل: بووووو ته د ساعت ته وګورهٔ ، نور د سهار اذان کیږي.

ساعت ته مې وکتل ، څه کم دوه بجې وې. ورته مې وویل:

هله ویده کېږو ، سبا بیا درسونه دي.

وروستی مسېج یې داسې وکړ: سترګې دې ښکلوم ، ښه شپه ولرې.

خواږه خوبونه ګورهٔ ، چې بغېر له ما دې بل څوک په خوب رانشي ؛ ګني وژنم دې!

خدای په اماني مو وکړهٔ.

زه یو ځل د باندې انګړ ته راووتم ، نری باد لګېده ، په اسمان کې ځای ، ځای ستوري ښکاره کېدل او نوره وریځ وه. لږ وروسته مې ساړه وشو ، بېرته کوټې ته روان شوم.

دوازې ته چې ورســیدم ؛ نو پیشــو راباندې رامنډه کړهٔ ، یو ټوپ مې ووههٔ ، چې نږدې ګورځېدلی وم.

کوټې ته ننواتم ، پر کټ اوږد وغځېدم ، زړه مې بې واره درابېده.

بیا هم تر ډېر ویښ وم او د هیلې په اړه مې ســوچونه وهل ، نه پوهېږم څو بجې به وي ، هماغسې ویده شوی وم.

سهار بیا هم لکه د نورو ورځو له چای وروسته پوهنتون ته لاړم.

ټولګیوال مې ټول په صــنف کې د ازموینو په اړه غږېدل ، چې راتلوونکي ســه شــنبه پیل کیږي.

دغه دوه / درې ورځې ددې پر ځای ، چې پوهنتون ته راشو ، باید اماده ګي ورته ونیسو.

همداسې پرېکړه مو وکړهٔ.

نن ورځ داسې خاص درس نه وو ، ټولو استادانو د ازموینو په اړه خپلې لارښوونې وکړې.

سلیم چې زما د یو مېز ټولګیوال او نږدې ملګری وه ، راته وویل: ښنګه مطالعه د کړي کنه ، چې څوک لومړۍ نمره درنه ونه نیســي. ورته مې وویل: اشــنا ، والا ســږ کال مې لږ د کور کارونه زیات وو ، هغاسې نه یم لکه د نورو کالونو ، ما لا خبره نه وه ، ختم کړې ، چې موبایل ته مې زنګ راغی ، له جېب مې راوویست ، ګورم چې مشر ورور مې دی ، اوکې مې کړ •

د هغه ورخطا غږ راغی ، چېرته یې ؟

ورته مې وویل: خیرت دی ؟ همدا اوس مو پوهنتون رخصت شو.

هو خیرت دی یې وویل او بیا زیاته کړه: مورجانه لږ ناروغه ده ، موږ هم ښـار ته در روان شوو ، کلي ته مه راځه هملته پاتې شه.

ورته مې وویل: مورکه خو سـهار رکه روغه وه ؛ نو یو دم څه پرې وشـول ؟ اوس یې حالت څنګه دی ، ډېره خو نه وي ناروغه ؟

ورور مې وویل: نه پوهېږم ، یو ناڅاپه څه پرې وشـول ، ته اوس دا خبرې پرېږده ، د ښـار لویې دولتي شفاخاني ته درځه ، موږ هم در روان یو.

اندېښنه مې نوره هم زیاته شوه

سـلیم وویل: خیرت دی ، څه خبره ده ؟ د مور د ناروغۍ مې ورته وویل. هغه ټینګار وکړ ، چې زه هم درسـره ځم ؛ خو قانع مې کړ ، چې اړتیا نشـته ، که ضـرورت شـي ، نو درته وایم. رخصت مې ترې واخیست ، موټر ته پورته شوم ، ځان مې شفاخانې ته ورسوه.

ورور دوی مې له تر اوسه نه وو راغلي ، د باندې په چمن کې انتظار شوم.

څو دقیقې به لا نه وې وتلي ، چې رانـنواتل ، په بیړه د موټر مخې ته ورغلم ، مشـر ورور مې راباندې غږ کړ ، هله تذکره راوړه ، بیخي ورخطا شوم ، په منډه لاړم ، تذکره مې راوړه.

مور بیخي بې هوشه وه ، لومړی ځل وو ، چې زما د ژوند اسرا مې په داسې حالت کې لیده.

له سترګو مې بې اختیاره اوښکې روانې شوې ، په بیړه مو تر عاجلې خونې راوړه.

ډاکټرانو هغه دننه کړه او موږ ته یې د باندې منتظر کېدو وویل.

مشر ورور ته مې وکتل ، سترګې یې سرې اچولي وې

د عاجلې خونې مخې ته پر چوکۍ زه او مشر ورور دواړه کېناستو.

دروازې ته مې زیر ، زیر کتل او له ځان سره به مې ویل: ان شاءالله په مور هېڅ هم نه کیږي.

کوچني ورور مې مسلسل زنګونه کول ، د مور د حالت پوښتنه به یې کوله.

ورته به مې ویل: اوس بیخي ښه ده ، ته ارام اوسه.

تقريباً نيم ساعت به وتلی وي ، يوې نرسې چې سپين ماسک يې اچولی وه ، دروازه خلاصه کړهٔ.

په بيړه له ځايه پورته شوم او مخې ته يې ورغلم ، ورته مې ووې: زما د مور حالت څنګه دی ؟

هغې د دروازې لور ته لاس ونيوه او زياته يې کړهٔ ، هغه په هوش راغلي ده ، مهرباني وکړئ اوس ورتلی شئ.

مشر ورور مې او زه دواړه دننه ورغلو.

د مور دواړه خواوو ته ښځينه ډاکټر ولاړې وې ، چې مور يې وليدو نه لاره يې پرېښودهٔ او راته يې وويل: په مريض مو د زړه حمله راغلي وه ؛ خو د خدای مهرباني وه ، چې اوس يې وضعيت ښه دی ، مګر ارام ته اړتيا لري ، تر سبا پورې به هملته وي.

مشر ورور مې ورته وويل: سمه ده ، چې څنګه ستاسې نظر وي ؛ نو هماغسې کوو.

په مور ورټيټ شوم ، په تندي مې ښکل کړهٔ ، بيا مې يې لاس ونيو ، په کټ کې ورسره هملته نږدې کېناستم.

له سترګو يې اوښکې روانې شوې او ماته يې وويل: زويه ، ما فکر نه کوهٔ ، چې بيا به مو ووينم.

اوښکې مې يې په لاس پاکې کړې ، ورته مې وويل: مورکې ، داسې مه وايهٔ ، په تا هېڅ نه کيږي ، اوس دې حالت څنګه دی ؟

سر يې وخوروهٔ ، اوس ښه يم او بيا يې زموږ د کوچني ورور پوښتنه وکړهٔ ، چې هغه چېرې دی ؟

مشر ورور مې ورته وويل: هغه په کور دی ، لږ وروسته زه ځم ، هغه به راوليږم ، ته د ارام وکړهٔ.

يوه ډاکټره راوړاندې شوه او مور ته يې وويل: مريض مو ارام ته اړتيا لري ، اوس يې لږ ارام ته پريږدئ.

موږ له ځايه پورته شو ، د باندې راووتو.

مشر ورور مې وويل: اوس خو ان شاءالله د مورجانې وضيعت ښه دی ، زه به کور ته لاړ شم ، کوچنی ورور ميوند يوازې دی ، که اړتيا شوه ؛ نو په بيړه ځان رارسوم.

هغه مې رخصت کړ او زه پر هماغه چوکۍ کېناستم.

نرسه به په ځينو شيانو پسې راووته ، ما به مې د مور پوښتنه ترې وکړه ، ډېره په ارام راسره غږېدۀ ، ويل به يې تر اوسه ويده ده ، چې راويښه شي ؛ نو درته وايم.

په شفاخانه کې مې زړه ډېر تنګ وه ، هره خوا ناروغان وو.

د مزديګر اذانونه کېدل ، چې مور يې له عاجلې خونې راوويسته ، ډاکټرانو راته وويل ، اوس يې حالت ښه دی ، په هغه بله سر ته کوټه کې دې ارام وکړي ، مور يې بيا ، بيا ګورو.

سمه ده مې وويل او ورسره روان شوم.

په دهلېز چې وړاندې لاړو ؛ نو ښي لاس ته د کوټې دروازه يې خلاصه کړه او وردننه شو. د مور خدمت لپاره يې هماغه نرسه ګمارلې وه ، چې مور ته يې احوال راکاوۀ.

لا به پر چوکۍ ناست نه وم ، چې موبايل ته زنګ راغی ، چې ومې کاته ؛ نو هيله وه.

له ځايه پورته شوم ، د باندې راووتم ، زنګ يې قطعه شو.

ما زنګ پسې وکړ ، له څو ثانيو وروسته يې موبايل پورته کړ او سلام يې وکړ.

ځواب مې ورکړ.

هغې وويل: زه چې زنګ ونه کړم ؛ نو ته پوښتنه نه کوې.

ورته مې وويل: زه او ته چا پکې راوستو ، يا تا زنګ کړی او يا مه.

په بيړه يې خبره راپرېکړۀ ، او راته يې وويل: هو دا چا پکې راوستل ، هر ځلې زنګ زه کوم ، ته خو هم کله نا کله پوښتنه کوۀ.

نن مې د ډېرو خبرو حوصله نه لرله ، ورته مې ووې ، سمه ده ، نور زه هم زنګ درته کوم او پوښتنه به دې کوم.

هغې وويل: ته ولې داسې غلی غږېږې ناروغ خو نه وې ؟

نه مې وکړل او ورته مې وويل: مورجانه لږ ناروغه ده ، ښار ته راغلی يم ، روغتون کې يو.

هغې وويل: ولې! په مورجانه څه شوي دي ؟ ان شاءالله خيرت خو دی ؟

کيسه مې ورته وکړۀ ، چې زه پوهنتون کې وم ، يو ناڅاپه د زړه حمله پرې راغلې او اوس يې حالت ښه دی.

بخښنه يې وغوښتۀ ، چې ما بې وخته ګيلې شروع کړې.

ورته مې وويل: کومه خبره نه ده ، ته خو نه وې خبره کنه.

هغې وويل: الهامه ګرانه ، تشويش مه کوۀ ، شکر دی ، چې مورجانه اوس ښه ده ، خدای د يې په خوب هم نه ځنډوي او بيا يې زياته کړۀ: زه اوس څه وکړم ؟

ورته مې وويل: تا د خدای راته لري ، بس چې زنګ دې وکړ او خبرې د راسره وکړې ، دا هر څه دي ، اوس مې زړه ارام شو.

د شفاخانې پوښتنه يې وکړۀ ؟

ورته مې وويل: د ښار په لويه دولتي هغه کې يو.

هغې زياته کړۀ: هله نور دې نه غړوم ، په مور پام کوۀ ، بيا زنګ سره کوو ، اړيکه يې پرې کړۀ.

بېرته کوټې ته ننواتم ، د مور کټ تر څنګ نږدې پر چوکۍ کېناستم.

نرسې مې مور ته د شيدو جوش ورکاوۀ.

د ډاکټرانو او نرسانو دغسې چلند حيران کړم ، ځکه ډېرو خلکو به شکايتونه ترې کول ؛ مګر ما هېڅ داسې څه ونه ليدل ، چې نيوکه پرې وکړم.

مور چې مې لږ جوش وڅښۀ ، نور يې نرسې ته وويل: بس دی ، زړه ته مې نه کيږي. هغې کوټی پر مېز کېښودۀ او له کوټې ووتۀ. مور مې وويل: زويه ، د مزديګر لمونځ رانه قضا نشي ، لاس راکړۀ ، چې پورته شم.

ورته مې وويل: اوس يې وخت دی ، پورته کېږۀ مۀ ، همدلته يې په اشاره وکړۀ.

مور مې هماغسې په اشاره وکړ او ما ځان ته خپل د غاړې دسمال پر ځمکه هوار کړ او پرې ودارېدم.

ما لا لمونځ خلاص نه وه ، چې دروازه خلاصه شوۀ. دوه ډاکټرې راننوتې او د مور کټ ته ودارېدې. پوښتنې يې ترې پيل کړې: څنګه يې ؟ زړه خو د نه بديږي ؟ کوم ځای به د درد نه کوي ؟

مور مې ورته وويل: نه ، اوس بيخي ښه يم.

هغوی وويل: که کومه ستونزه وه ؛ نو زموږ نرسه درسره ده ، ورته وايئ.

ښه مې وکړل ، هغوی لاړې.

ورونو مې او هیلې خو وارې زنګونه کړل او پوښتنه یې وکوله •

ماښام ناوخته په ډوډۍ پسې لاړم ، مور ته مې یو څه مېوه او وریژې راوړې.

مور مې ویل: ډوډۍ مې زړه ته نه کیږي ؛ خو ما ټینګار وکړ ، چې دوا خورې ، په خالي معده بیا بده لګیږي.

ډوډۍ مو وخوړه ، مور مې وویل: ګولۍ راکړۀ. د مېز په سر اېښې د اوبو بوتل مې راپورته کړ او ګیلاس مې ترې ډک کړ ، له ګولیو سره مې یو ځای ورکړ.

له دوا خوړلو وروسته یې بېرته پر بالښت سر کیښود او څو دقیقې وروسته خوب یووړه. له کټ یې پورته شوم او په چوکۍ ورته نږدې کېناستم.

وټساپ مې خلاص کړ ، تر څو هیلې ته مسېج وکړم ، چې دروازه خلاصه شوه ، سر مې ورپورته کړ ، هماغه نرسه وه ؛ خو ماسک یې نه وو اچولی.

سلام یې وکړ.

ځواب مې ورکړ او بیا یې وویل: ستا خور ، ښځه / ورېندار نشته ، چې درسره راغلي وای ؟

ورته مې ووې ، نه متاسفانه.

هغې بیا وویل: ولې ؟

موبایل مې جېب ته کړ ، ټوله کیسه مې ورته وکړۀ: درې ورونه او یوه مور . خور نه لرو ، مشر ورور ته مو کوژده کړې ده ؛ چې بله خبره مې کوله موبایل ته زنګ راغی.

له جېب مې راوویست ، چې ګورم هیله ده. اوکې مې کړ. د هغې خوږ غږ راغی:

سلام یې وکړ او ویې ویل الهامیه ، څنګه یې ؟ د مورجانې حالت څنګه دی ؟

علیکم سلام مې وکړل او ورته مې وویل: شکر دی ، تر اوسه خو د الله احسان دی ، مورکه هم اوس ښه ده ، لږ وړاندې ویده شوۀ.

هغې وویل:ستړی شوی به وې ؛ خو شکر دی ، چې اوس ښه ده.

نرسه مې ښي خواته پر چوکۍ ناسته وه او غلي مې د سترګو له لونجو ور وکتل ، هغې ماته زیر ، زیر کتل.

هیلې ته مې وویل: اوس مورکه ویده ده ، چې راویښه نشي ، لږ وروسته زه مسېج درته کوم.
اړیکه یې پرېکړه.

نرسې وویل: ته ورځه ، سترې به وې ویده شه له مور سره د زه یم.

مننه مې وکړه او ورته مې وویل: نه ، که تاته خوب درغلی وي ، ورځه ، زه همدلته یم ، که اړتیا شوه ؛ نو غږ درته کوم.

له ځایه پورته شوه ، د سپینې اغوستې چپنې جېب ته یې لاس کړ ، یو کاغذ یې راکړ او راته یې وویل: دلته د خپل نمبر ولیکه ، چې بیا مو د شپې زه احوال اخلم.

نمبر مې ورته ولیکه ، نور لاړه.

بېرته مې وټساپ خلاص کړ ، تر ناوخته مې له هیلې سره چټ کوه ، چې همداسې پر چوکۍ ناست خوب وړی وم.

سهار وختې بېرته راویښ شوم ، په بیړه مې اودس او لمونځ وکړل.

مورکه هماغسې ویده وه ، لږ وروسته مې غلی غږ پرې وکړ ، سترګې یې وغړولې.

پوښتنه مې ترې وکړه ، چې څنګه یې ؟ کوم تکلیف خو نه وي ؟  ویل یې بیخي روغه یم ، نور باید کور ته لاړ شو.

لمر چې راوختلو ؛ نو له ډاکټرانو سره په مشوره له روغتون څخه رخصت شوو ، موټر مې ونیوه او کور ته روان شوو ، چې له موټر ښکته شوو ؛ نو زنګ راغی ، شمېرې ته مې وکتل ؛ خو ومې نه پېژنده ، اوکې مې کړ: د د جینۍ نااشنا غږ راغی: سلام.

علیکم سلام مې وکړل ، بیا مې وویل: تاسې څوک یئ ؟ وبخښئ ، لکه چې شمېره مو غلطه ده ؟

لږ غلي شوه او بیا یې ووې: شمېره مې نه ده غلطه کړې ، زه هغه ، اغه خبرې یې بندې ، بندې شوې.

خبره مې یې پرېکړه ، ښه څوک یې ، چې شمېره دې نه ده غلطه کړې ؟

هغې وویل: زه هغه ، ببکا مې چې شمېره درنه واخیسته.

د مور ناروغۍ ته مې چورت خراب وو ، ټول فکر مې ګډ وډ وو ، ذهنه ته مې نه راتلهٔ ، چې څوک ده.

مور مې کور ته ننواته.

ما هغې نامعلومې جینۍ ته وویل: والا نه پوهېږم ، چې ته ځوک یادوې ، هېڅ مې فکر پر ځای نه دی.

دا ځل یې راته سم وویل: هغه نرسه یم ، چې ستاسو د مور خدمت مې کاوۀ.

خیران شوم ، چې اوس خو له روغتون رخصت شوو ، هغې هم ولیدو ؛ نو ولې یې زنګ وکړ ؟

بیا یې هغه خبره په ذهن کې راوګرځېده: دلته د خپله شمېره ولیکۀ ، زه مو د شپې پوښتنه کوم.

له ځان سره مې وویل: ریښتیا شمېرې ته څه اړتیا وه ، هغه خو هملته وه ، ما ولې ورته نمبر ورکړ ؟

زه په همدې سوچونو کې وم ، چې هغې بیا غږ وکړ: ښنګه غلی شوې ؟ ودې پېژنم ؟

ورته مې وویل: هو ، هو ومې پېژندې. ډېره زیاته مننه کوم ، چې زما د مور په درملنه کې مو پوره خواري وکړۀ.

هغې وویل: د مننې وړ نه ده ، ځکه دا زموږ مسؤلیت دی ، باید ویې کړو. اوس مې ددې لپاره زنګ وکړ ، چې د مور پوښتنه مو وکړم ، حالت یې ښنګه دی ؟

ژر مې ځواب ورکړ: شکر دی ، اوس خو بیخي عادي حالت ته راګرځېدلي ده.

ښه یې وکړل او بیا زیاته کړۀ: همدا پوښتنه مې کوله ، پر تاسو مې زړه بد وه ، چې له مور پرته په کور کې بله ښځینه نه لرئ.

بیا مې مننه وکړه او ورته مې وویل: بس د خدای چارې دي ، په د حالت شکر

اړیکه مو پرېکړۀ.

موبایل مې جېب ته کړ او کور ته ننواتم.

مور ، مشر او کوچنۍ ورور مې لمر ته ناست وو.

مور ته مې وویل: ارام وکړۀ ، چې موږ نه وو ؛ نو ته بیا ټوله ورځ لګیا وې ، کارونه کوې.

هغې وویل: نور څوک شته ، چې ویې وکړي ، همدا زه به یې کوم!

ورته مې وویل: موږ یې کوو ، ته ترې خلاصه یې.

له براندې څخه د مور کوټې ته لاړو ، پر کټ مې روجايي ورته برابره کړه او کېناستو. هغې د دوا پلاستيک راواخيست او راته يې وويل: زويه ، دوا خو راته وښايه ، څه وخت يې وخورم او کومه يې په ماړه خېټه او نهره ده ؟

ټوله مې ورته وښوده ، چې داسې خوړل کيږي.

مور مې وويل: لږ سر راباندې دروند دی.

د دوا پلاستيک مې پر مېز کيښود ، ورته مې ووې: دغه ځينې ګولۍ لږ خوب درباندې راولي ، د ارام لپاره دي ، ته سر کيږدهٔ ، همدا د دوا تاثير دی ، ان شاءالله ښه کيږي.

مور مې څملاسته ، کمپله مې پرې واچوله.

کوچني ورور ته مې وويل: کېدای شي ، د مور پوښتنې ته څوک راشي ، شرم دی.

کور مو ټول ګډ وډ دی ، راځهٔ ، ته لوښي شيان ومينځهٔ او زه کوټې جارو کوم.

مشر ورور مې وويل: زه به بازار ته لاړ شم ، لږه سودا به راوړم.

ټول له ځايه پورته شوو او خپل کارونه مو شروع کړل. د مور کوټه مې چې جارو کړهٔ ، په بله هغه باندې لګيا شوم ؛ نو موبايل ته مې زنګ راغی.

سکرين ته مې يې وکتل ، هيله وه. په بيړه مې اوکې کړ او غږ مې پرې وکړ: سلومينه هيلووو!

هغې وعليکم سـلومينه وکړل او بيا يې وويل: اې ، الهامووو ياد شـوی مې يې ؟ ريښـتيا مورجانه څنګه ده ؟

ځواب مې ورکړ: زما هم ياده شوې يې ، مورکه اوس بيخي ښه ده ، راغلي يو خپل کور کې يو. پر لګيا وم ، کوټه مې جارو کوله ، چې زنګ دې راغی.

هغې وويل: قربان د شم ، زه درځم کارونه درته کوم ، ته به ولې جارو کوې.

ورته مې وويل: کاش! راتلای شـوی ؛ نو څومره به ښـه وه ، د مور به فکر درسـره بدل وو ، خبره مې لا خلاصه کړې نه وه ، چې هغې وويل: ولې يوازې به د مور پام راسره بدل وو ، ته به خوشال نه وې ؟

ومې خندل ، وه لېونۍ زه خو لا اوس په موبايل غږېدو درسـره خوښ يم او ځان ارام محسوسوم.

زه ځومره بختور یم ، چې تا لرم ، بیا د خبرو په منځ کې راولوېده ، اصلاً بختوره خو زه یم ، چې تا لرم.

له کله نه مې چې تا سره پېژندلي ؛ نو باور وکړهٔ ، ژوند مې تغیر کړی دی.

ورته مې وویل: دا خبرې راته مه کوهٔ ، هسې نه چې سبا بیا وزرې وکړم.

ویې خندل او زیاته یې کړهٔ: زه دې پېژانم ، ځکه خو دغه خبرې درته کوم.

تر ډېره مو خبرې وکړې ، بیا مې ورته وویل: کوټه مې نیمه یي کې پاتې ده ، هسې نه ځوګ راشي او بل مې د درس پاڼه هم نه ده اړولي بل سبا خو ازموینې دی ، ان شاءالله بېګاته سره غږېږو.

وروستۍ خبرې یې وکړې: زه درسره یم ، خپه کېږهٔ مهٔ ، مور به خدای ښه کړي ، دا هر څه به تېر شي ، دایمي به دغه حالت نه وي ، ښکلي وختونه به راشي.

ان شاءالله مې وویل او خدای پاماني مو وکړهٔ.

پاتې کوټه مې په بیړه جارو کړهٔ او د مور خواته لاړم ، چې ومې کاته ؛ نو خوبولې وه.

د کتابونو له الماریٔ مې چپټر راوخیستل او په توشکه کېناستم ، لکه په زور یې چې ځوګ راباندې لولي ، هېڅ زړه مې نه کېده ؛ خو مجبور وم ، ځکه بل سبا ازموینې وې.

ستونی مې وچ شو ، د کټ له لاندې مې پتنوس راکش کړ ، له ترموز څخه مې پیاله ډک کړهٔ او یو دانه چکلېټ مې له قاب واخیست.

مینکې (ښـاروګانې) د کوټې مخې ته کېناسـتې او په جنګ وې ، ما ویل چغاهار یې مورکه راویښه نه کړي ؛ نو پسې ورپورته شوم ، چې یې زه ولیدم ، ولوتې.

انګړ ته لاړم ، لمر ډېر خوږ لګېده ، اسمان ته مې وکتل ، طیاره روان وه او شاته یې سپینه لیکه پرېښودهٔ.

موبایل ته پیغارم راغی ، فکر مې وکړ ، چې د شبکې څخه به وي ، خو ځو دانې مسلسل نور هم راغلل.

موبایل مې راوخیست ، چې مسېج مې خلاص کړ ؛ نو هماغه د نرسې نمبر وه.

## د لومړۍ برخې پای